**تر 2030م پورې به په اروپا کې د مسلمانانو شمېر له 44 مليونو تنو واوړي!**



تمه کېږي چې تر ۲۰۳۰م به په اروپا کې د مسلمانانو شمېر ۴۴ مليون تنو ته ورسيږي، يعنې د وروستی وړاندوينې پر اساس به د اروپا نيږدې ۱۰ سلنه اوسېدونکي مسلمانان وي. د نړيوالو مهاجرتونو د هغه طرحې د رپوټ پر اساس چې مسلمانانو د انقرې د ټولنيزو علومو په پوهنتون کې کړی؛ تر 2030م به د اروپا 8 سلنه نفوس مسلمانان جوړ کړي.

د دغه رپوټ پر اساس په امريکا کې هم د مسلمانانو شمېر مخ په لوړېدو دی او تمه ده چې تر 2030 م به د امريکا 2.1 سلنه يا 5 مليونه اوسېدونکي مسلمانان جوړ کړي. دغه رپوټ په نړيواله سطحه وړاندوينه کړې، چې تر 2030م به د نړۍ له 5 تنو اوسېدونکو يو مسلمان وي او د 2030 م په داخلېدو سره به د نړۍ 79 هېوادونه لکه بلژيک، کاناډا او هالنډ يو يو مليون مسلمانان ولري.

په اروپا کې د اسلام پر ضد له سختو منفي تبليغاتو سره سره د مسلمانانو شمېر مخ پر زياتېدو دي، چې له هغې ډلې د مسلمانانو ماشومان، کډوال او هغه کسان دي چې نوي اسلام ته مخ کوي، دا د دې لپاره دي چې الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**﴿هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَى وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ﴾**

[توبه: 33]

***ژباړه:*** *الله سبحانه وتعالی هغه ذات دی چې خپل رسول يې (حضرت محمد صلی الله عليه وسلم ) له هدايت او حق دين سره راولېږه، چې هغه پر نورو دينونو غالب کړي، که څه هم مشرکان دا کار نبه ونه بولي.*

**ليکوال: منيب حميدی**

**ژباړن: حبيب الله**